لیکوال: هانس کریستین اندرس
ژباړونکی: آصف بهاند

۲۰۱۵/۰۹/۱۷

# د مرغاوی بد رنګه چورګوړی

## (Den grimme ælling)

### دویمه برخه

چورګوړي ژوره سا واخسته او وې ویل:« خدایه شکر! زه دومره بد شکله یم چې سپی هم نه غواړي ما په غاښ کړي!» چورګوړی پرته له غږ ځوږ نه هلته غلی پاتې شو، خو په ډنډ کې ټوپکو پر له پسې ډزې کولې او کارتوسو چغې وهلې.

ډېره ورځ واوښته، ځو هر څه غلي شول، خو خوارکوټي چورګوړي نه شوای کولای چې د باندې را و وزي. څو ساعته وروسته یې شا و خواته وکتل. وروسته په ډېره بیړه په تند باد کې له ډنډ نه و وت او د کروندې او چمنونو په لوري وتښتید.

بیا یوه واړه کلیوالي بیوزلي کور ته ورسید. کور ډېر بیوزلی او فقیر و، چورګوړي نه شوای کولای فیصله وکړي چې کوم خوا ولاړ شي، نو یو چیرې ودرید. تند باد ډېر په عذاب کړی و، دی اړ وت چې په خپله لکۍ کیني، څو ځان ونیولای شي. هوا نوره هم پسې خرابیده. نا څاپه یې له ودانۍ نه یوه را لویدلي نل ته پام شو چې دروازه یې نیم کښه نیولې ده او کیدای شي له نیم کښه دروازې نه د ناستې کوټې ته ور ننوزي او چورګوړي دا کار وکړ.

په کور کې یوې زړې ښځې له یوې پیشکې او یوې چرګې سره ژوند کاوه. ښځې پیشکې ته د «زویه!» په نامه غږ کاوه. پیشي کولای شول خپله ملا چنګه کړي او وخریږي، که یې په شا باندې چا لاس تیر کړی وای، وینتانو یې رڼا هم کوله. چرګې لنډې پښې درلودې، د همدې له پاره یې «ښایسته چرګه» ور ته ویلې. ښې هګۍ یې اچولې او زړې بوډۍ لکه خپل اولاد مینه ورسره کوله.

سبا سهار وختي د ټولو د بتکې چورګوړي ته پام شو، پیشي خرهاری ورته پیل کړ او چرګې د قُد قُد غږ و ایسته.
زړې ښځې شا و خوا ته وکتل او وې ویل:«څه خبره ده، څه پیښ دي؟» د زړې ښځې سترګو سم لیدل نه شوای کولای، نو یې د یوې چاقې بتکې خیال پرې وکړ او وې ویل:«که نارینه نه وي، نو کولای شم چې وروسته له دې د بتکې هګۍ هم ولرم، باید وې آزمایم!»
درې اونۍ یې د بتکې چورکوړی د آزمویلو له پاره و ساته، خو کومه هګۍ یې وا نه چوله.
پیشي د کور نارینه و او چرګه د کور میرمن. هغوی په دې عادت شوي وو چې و وایي:«موږ او دنیا!» هغوی داسې انګیرله چې دوی د دنیا نیمه برخه دي، هغه هم د دنیا ډېره ښه نیمه برخه! د بتکې چورګوړي فکر وکړ چې دا خبره باید بله مانا هم ولري، خو څه یې و نه ویل.
چرګې پوښتنه ځینې وکړه:«کولای شې هګۍ واچوې؟»
ـ «نه!»
ـ «سمه ده، نو خوله دې وتړه!»
پیشکې و پوښته:«کولای شې شا دې چنګه کړې، وخریږې او یا دې له ویښتانو بریښنا راوزي؟»
ـ «نه!»
ـ «ډېر ښه، کله چې یوه خلک غږیدل، ته څه مه وایه!»


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په خیر و لولئ

د چورګوړي وضعيت ډېر خراب شو او يوې ځنډې ته کيناست. لږ څه وروسته د تازه هوا او د لمر د رڼايي شوق پرې ولګيد او په اوبو کې د ور ګډيدو عجب شوق ور ته پيدا شو او په پای کې يې و نه شو کړای خوله پټه ونيسي او نا چار يې چرګې ته و وايي.
چرګې و پوښته:«څه در پيښ دي؟ کوم کار نه لرې، د همدې له پاره دې داسې خيالونه په سر کې پيدا کيږي. يا ځو هګۍ واچوه او يا لږ وخريږه، ټول فکرونه دې له سره ورکيږي!»
چورګوړي و ويل:«خو په اوبو کې تلل ښکلي دي! ډېر ښکلي وي چې سر دې خم ونيسي او په ابو ځان ښکته وغورځوې!»
چرګې و ويل:«هوکې، ډېر خوند بښونکی دی! ته ليونی شوی يې! پيشکه و پوښته، تر هغو چې زه پوهيږم، هغه تر ټولو هوښيار موجود دی. وګوره، د هغې خوښيږي چې لمبا وکړي يا په اوبو کې ځان ښکته و غورځوي؟ زه څه نه وايم، ورشه ته خپله له دې زړې ښځې نه، د کور له خاوندې څخه پوښتنه وکړه! په ټوله دنيا کې له هغې نه هوښيار څوک نه شته. ته فکر کوې د هغې خوښيږي چې د ډنډ په اوبو کې ولامبي او يا خپل سر تر اوبو لاندې کړي؟»
چورګوړي و ويل:«تاسو زما په مقصد پوه نه شوئ!»
ـ «بلې، که موږ ستا په مقصد پوه نه شو، څوک کولای شي تا درک کړي؟ غواړم پوه شم چې ته خو به له دې پيشکې او زړې ښځې نه ډيره هوښيار نه يې، د خپل ځان په هکله څه نه وايم! هلکه نخرې مه کوه! له خپل خالق نه د ټولو هغو ښيګنو په خاطر مننه وکړه چې ستا په حق کې يې کړې دي! آيا يوې تودې کوټې ته رانغلې او داسې دوستان دې نه لرل چې يو څه ور نه زده کړې؟ که څه هم ته کودن يې، له تا سره دوستي په زړه پورې نه ده، خو کولای شې پر ما باندې باور وکړې! زه ستا ښيګڼه غواړم، زه تا ته ځيرې خبرې کوم، په همداسې يو حالت سړی کولای شي خپل حقيقي دوستان وپيژني! اوس نو ګوره، هڅه وکړه چې يا هګۍ واچوې، يا خريدل زده کړه او يا به دې له ويښتانو بريښنا ولاړيږي!»
چورګوړي و ويل:«فکر کوم چې زه بايد د باندې لويې دنيا ته و وزم!»
چرګې و ويل:«هوکې، ته کولای شې!»
دغسې چورګوړی لاړ، د اوبو پر مخ يې لمبا وکړه، ځان يې تر اوبو لاندې کړ، خو د بد رنګې په خاطر يې نورو ځارويو چندان خيال ورباندې را نه وړ.
منی را ورسيد، د ځنګله د ونو پاڼې زيړې او قهوه يې شوې، باد د پاڼو په منځ کې تاو را تاو شو او هغوی يې په ګډا سر کړې. پاس هوا ډيره سړه ښکاريده، داسې مالوميده چې د اوريها وريځ ده، د ديوال پر سر د اينونډل شوو اغزيو اولرګيو پر سر کارغه ناست و او له سړو نه يې کراغ، کړاغ غږونه ايستل! داسې اوره او هوا که د چا په فکر کې هم راغلې وای، ساړه يې کيدل! خوارکوټي چورګوړی ډېر بد حالت درلود.
يوه ورځ له لمر لويدو وروسته د بوټو له منځ نه يوه ډله ښکلي الوتونکي را و وتل. چورګوړي هيڅکله داسې ښکلي مرغان نه وو ليدلي. ښکې يې سپيني او ځليدونکې وې او جګې ښکلې غاړې يې درلودې. دا مرغان قو(قانس) نوميدل، نا آشنا غږوه يې ايستل، خپل ښکلي اوږده وزرونه به يې غوړول، له سړو سيمو نه به تودو هيوادونو او پراخو سيندونو ته الوتل. هغوی جګ الوت کاوه، دومره جګ چې بد رنګه چورګوړی ورته هک پک پاتې و. چورګوړی لکه څرخ په اوبو کې تاو شو، خپله غاړه يې هوا ته د هغوی پرلوري ور جګه کړه، داسې يو اوږد او عجيب غږ يې و ايسته چې خپله هم و ډار شو. هغه نه شو کولای چې دا ښکلي او نيکمرغه الوتونکي هېر کړي. څنګه چې هغوی له سترګو پناه شول، ده په ابو کې غوټه و وهله. کله چې بيرته د اوبو سر ته راغی، ځان بيخي بدل ور ته ښکاريده. دی نه پوهيده چې هغه الوتونکي څه نوميدل، په کوم لوري والوتل، سره له دې چې پخوا له دې هيڅ څوک ورباندې ګران نه وو، خو دوی يې په زړه کې ځای نيولی و او هغوی ته يې کومه رخه په زړه کې نه وه. څه وشول چې ده ته داسې يو ښکلی خيال پيدا شو؟ دی به ډېر خوشاله شوی وای که نورو بتکو له ده سره لږ کوزاره کړې وای، خوارکوټی بد رنګه موجود.
ژمی سوړ شو، ډېر سوړ. چور ګوړی مجبور و چې ولامبي او پرېنږدي چې اوبه بيخي يخ و وهي، خو هغه سوری چې دی به له هغه نه اوبو ته و ورننوت، سړو به، ورځ تر بلې وړکی کاوه، چورګوړی اړ و چې هر شيبه ور شي او د سوري د ابو د بيخي يخ وهلو مخنيوی وکړي. په پای کې بې سده شو او يخ و واهه.
يوه ورځ وروسته سهار يو بزګر له هغه ځای نه تيريده، چورګوړی يې وليد، په خپله کناوه يې يخ مات کړ او هغه يې کور ته، خپلې ښځې ته ور ووړ او هلته وړوکی مرغه بيرته را ژوندی شو.



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکې په خير و لولئ

ماشومانو غوښتل له هغه سره لوبې وکړي، خو چورګوړي فکر کاوه چې هغوی دی زوروي، په ډار سره د شودو کټوې ته ولوید، کټوه یې واړوله او شودې د ناستې په کوټه کې چپه شوې. ښځې لاسونه جګ کړل، په هوا کې یې یو په بل و وهل او چیغه یې کړه، د همدې چیغو په سبب چورګوړی د غوړیو خیګ ته ور والوت او له هغه ځای نه د وړو کندو ته ورغی او بیا پاس خوا ته والوت. خوارکوټی به څه ډول ښکاریده. ښځې چغې کړې او اورنیونکی(آتشګیر) په لاس او منډې یې ور پسې وهلې. کوچنیانو په لوړ آواز سره خندل یو پر بل لویدل او هڅه یې کوله چې هغه ونیسي. ښه وه چې ور خلاص و اوچورګوړي په ډیرې خوارۍ سره ځان د باندې و ایسته، د نوې اوریدلې واورې د پاسه یې منډې کړه، ځان یې د بو ټو منځ ته ورساوه، ولوید او بیسده شو.

په سخت ژمي کې چې کومه بد مرغي اوسختي په چورګوړي باندې راغله، که یوازې په هغو وغږیږو، کیسه یوې غمیزې غوندې کیږي. چورګوړی په ډنډ کې د نیزار په منځ کې اوږد غځیدلی و چې تود لمر راوخوت، ښکلی پسرلی را رسیدلی و او نورو مرغانو سندرې پیل کړې.

د ښتکي بچي نا څاپه خپل وزرونه جګ کړل، وزرونه یې له پخوا نه قوي شوي و او د ده بدن یې ښه جګولای شو. بیا نو پوه شو چې په یوه ستر بڼ کې دی. د منو د ونو غوټۍ غوړیدلې دي او د هغو ګلانو خوږ بوی را ته چې په بڼ کې له جګو څانګو نه را ټوېي شوي وو. اوه، دا ځای څومره ښکلی و، تاند لکه پسرلی! په همدې وخت کې له مخامخ ځنګلګوټې نه درې ښکلي قو(قانسان) را و وتل، خپل وزرونه یې وغوړول او په آسانتیا سره پر اوبو ور خوشې شول. د ښتکي بچې هغه پرتمین الوتونکي وپیژندل او عجیب ویر یې زړه ته لار ومونده.

له ځان سره یې و ویل:«زه به د دې شاهانه مرغانو خوا ته ور والوزم، هغوی به ما د دوی خواته د ورتګ د جرآت په پار او زما د بد رنګوالي په خاطر، د مرګ تر بریده په ټونګه باندې و وهي! هیڅ ارزښت نه لري! چې ښتکي مې په غاښ کوي، چرګان مې په ټونګو باندې وهي، چرګ ساتونکې جلۍ مې په لغته و وهي او د ژمي له سړو نه زوریږم، ښه ده چې د دوی له خوا مړ شم. بیا د اوبو منځ ته والوت او د پرتمینو الوتونکو خواته په لمبا ورغی. الوتونوکو د ده په لیدلو سره وزرونه وښورول. خوارکوټي و ویل:«ما دې و وژنئ!» خپل سر یې د ابو په لوري خم کړ او مرګ ته سترګې په لاره شو.

خو هغه د رڼو اوبو په منځ کې څه ولیدل؟ هغه ځان ته مخامخ خپل ځان ولید چې دی نور یو بد قواره تور، خړ او معمولي الوتونکی نه و، هغه خپله یو قانس(قو) و.

تاسو خپله یو قانس یاستئ، دا مهمه نه چې تاسو د ښتکو په یوه کرونده کې دنیا ته راغلي اوسئ، مهمه دا ده چې تاسو د قانس(قو) بچی اوسئ!

په الوتونکي باندې چې څومره سختۍ او بد بختۍ تیرې شوې وې، له هغه نه یې د خوشالۍ احساس کاوه. هغه اوس کولای شول چې له ورته راغلو نیکمرغیو او ښکلا نه مننه وکړي. غټ قانسان یې شا و خوا ته تاویدل او په خپلو ټونګو یې دی نازاوه.

څو ماشومان بڼ ته راغلل، ډوډۍ او دانې یې اوبو ته واچولې، تر ټولو واړه یې ناري کړې:«یو نوی قانس راغلی!» او نورو ماشومانو هم د خوشالۍ غږونه و ایستل:«هوکې، یو نوی قانس راغلی!» ماشومانو لاسونه وپړقول او په یوه دایره کې وګډیدل او په خپلو میندو پلرونو پسې یې منډې کړې. کیک او ډوډۍ د اوبو منځ ته ور ولویدل او ټولو و ویل:«نوی قانس تر ټولو ښکلی دی! ډیر ځوان او ډیر ښکلی دی!» او مشرانو قانسانو هغه ته درناوی وکړ.

دې جریان سره هغه لړ و شرمیده، خپل سر یې تر وزرونو لاندې کړ او نه پوهیده چې څه وکړي. هغه ډیر نیکمرغه وه، خو تر اوسه مغرور نه و، ځکه چې یو مهربانه زړه هیڅ کله نه مغروریږي. هغه فکر کاوه چې له ده پخوا څنګه کرکه کیده او څنګه دی تحقیریده او اوس ټولو ویل چې دی تر ټولو الوتونکو ښکلی دی. ګلانو خپلې څانګې د هغه له پاره د اوبو خوا ته ور ښکته کولې او لمر دومره له تودوخې او مینې سره ځلیده چې هغه هم خپل وزرونه یو بل سره وټپول، خپله نرۍ غاړه یې جګه کړه او د زړه له کومې نه یې د خوښۍ ناری سر کړې:

«کله چې زه د ایلې یو بد رنګه چورګوړی وم، هیڅکله مې د داسې نیکمرغۍ خوب نه لیده!»

پای

منبع:

H.C.ANDERSEN، Eventyr,2, (Den grimme ælling) ,Odensa, Denmark, 1994, pp 177-197.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ